ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغيرو ما بانفسهم
الايه
صدق الله العظيم

په تحقیق سره لوی خدای جل جلاله یوه قوم کې تغیر نه راولي تر څو دوی په خپلو ځانو کې د تغیر اراده ونکړي

بسم الله الرحمن الرحيم
الله اکبر

# افغان ملت
ملي جریده

افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند

Afghanistan Social Democratic Party

د افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونکي ارګان

د افغان ملت غږ !

مونږ په خپل تاریخي هیواد کې د یو ملي، خپلواک، بې طرفه، په خپلو پښو ولاړ او سرلوړي افغانستان غوښتونکي یو

د ۱۳۹۱ لمریز کال د وږي میاشت     د ۲۰۱۲ میلادي کال د سیپتمبر میاشت     د دریمي دوری ۴مه ګڼه     Publication of the Afghanistan Social Democratic Party- September 2012

# افغان ملت ملي مترقي ګوند په کنړ او نورستان ولایتونو د توغندیو بریدونه په کلکه غندي

د تیرو څو میاشتو راهیسې د کنړ او نورستان په سرحدي ولسوالیو د پاکستان لخوا په مسلسله توګه د توغندیو بریدونه دوام لري چې په نتیجه کې یې پدې سیمو کې میشت مظلوم او بې ګناه ملکي وګړي په شهادت رسیدلي او هم یې په کافي اندازه مالي تاوان رسولی دی . د افغان ملت ملي مترقي ګوند دا عمل په کلکه غندي او پاکستاني چارواکو نه غوښتنه کوي چې دا بریدونه په فوري توګه بند کړي. پدی ارتباط د افغانستان حکومت او په خاصه توګه ولسمشر حامد کرزي د احساساتو پر ځای د تحمل او تدبر نه کار اخیستی او څو څو واره یې په پاکستاني حکومت غږ کړی چې دا بریدونه ودروي.

د افغانستان حکومت او ولس د خپل ګاونډي هیواد پاکستان سره د ښو او دوستانه اړیکو غوښتونکي دي او دواړه هیوادونه باید په همدې روحیه په شریکه د تروریزم پر ضد مبارزه وکړي. که چیرې په افغانستان بریدونه پدې بهانه کیږي چې دلته پاکستاني طالبانو پناه اخیستې او په دوی بریدونه کوي نو د پاکستان حکومت کولی شي چې د ډیورنډ د لیکې نه اخوا ددوی مخه ونیسي نه دا چې زمونږ په مظلوم ولس باندې د توغندیو بارانونه جوړ کړي.

د یادونې وړ ده چې ولسمشر کرزي په یو خبري کنفرانس کې په ډاګه کړه چې غواړي چې د خبرو اترو له لیارې د دې مسلې حل راوباسې او که د افغانستان لخوا هم عمل باالمثل وشي نو احتمال شته چې د پولې نه اخوا ولسونو ته مرګ او ژوبله واوړي او افغان حکومت په هیڅ صورت داسی نه غواړي ځکه هلته هم زمونږ ورونه قومونه اوسیږي. پاکستاني چارواکي باید د ښه ګاونډیتوب د اصولو او د نړیوالو موازینو په رڼا کې دا بریدونه په فوري توګه بند کړي.

# د ولسمشر فرمان او د ولس هیلې او اندیښنې

انجینیر اجمل شمس

ولسمشر کرزي د روان ۱۳۹۱ لمریز کال د زمري په میاشت د حکومت د چارو د سمون ، د اداري فساد پر ضد د مبارزې او د حکومتدارۍ د ستونزو د منځه وړلو په اړه یو فرمان صادر کړ چې ۱۲۲ مادې لري او تقریبا ۱۷ دولتي ارګانونو (وزارتونو او مستقل ریاستونو ) ته پکې مشخصې وظیفې سپارل شوې تر څو هره دولتي اداره په ټاکلي وخت کې په ګوته شوې وظیفې تر سره کړي او د اجراا‌تو ګزارش ولسمشر ته وړاندې کړي. ولسمشر دا هم ویلي چې که کومه اداره په ټاکلې موده کې خپلې مشخصې دندې تر سره نکړي نو د مسئولینو سره به یې قانوني چلند وشي او څارنوالۍ ته به معرفي شي.
که څه هم د ولسمشر کرزي دغه وروستۍ پریکړه د ستاینې وړ ده خو ولس سره یې پوښتنې هم پیدا کړي دي (پاتې ۴ مخ)

# ملی ګټې او زمونږ مسئولیت

ولی فرهاد

د تیرو درې لسیزو د جنګونو له امله زمونږ بې ګناه ولس ډیر ظلمونه ګاللې دي. د بې شمیره افغانانو دژوند د لاسه ورکولو ، د اقتصاد د تباهۍ د امنیت د نه شتون ، د نشیي توکو ، اداري فساد او داسي نورو ناوړینونو له کبله په افغانستان ډیرې بدې ورځې تیرې شوې او تیریږي. د نړۍ نږدې هر هیواد د خپل تاریخ په اوږدوکي د داسې ازمایښونو سره مخامخ شوی خو بالاخره هر څه پای ته رسیدلي او د صلحې او امنیت پروسې بیا رغونې ته زمینه مساعده کړې.
دا طبعي ده چې دلته به هم جنګونه اخر پای ته اورسي (پاتې ۴ مخ)

# د انتقال د کمیسیون مشر ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي مرکه (د شمشاد ټلویزیون نه په مننې سره)

د انتقال کمیسیون مشر ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي پدې وروستیو کې د شمشاد تلویزیون سره د انتقال د بهیر او په نورو ملي مسایلو یوه مرکه کړې وه چې مونږ ددې مرکې مهم مطالب د شمشاد ټلویزیون نه په مننې سره خپلو لوستونکو ته وړاندې کوو

**پوښتنه : ښاغلی ډاکتر اشرف غني احمدزی صاحب داچې دواک لیږد بهیر مشري تاسې په غاړه لرئ او دواک لیږد درېیم پړاو تقریباً نیمایي ته رسېدلی او څلورم لا په لاره دی . څومره ډاډمن یاست چې ددرېیم پړاو په پایله کې به رښتیا هم امنیتي ارګانونه دافغانستان پنځه اویا سلنه خاوره تر خپلې بشپړې امنیتي ولکې لاندې راولي ؟**

ځواب : تر هرڅه وړاندې باید موخه څرګنده شي . یعنی څه ؟ موخه داده چې ملي حاکمیت باید په بشپړه توګه خوندي شي . زمونږ په شرایطو کې دا وخت غواړي . کله چې ولسمشر ددغې پروسې په باب پرېکړه وکړه او بیا یې له مانه ددغې پروسې دپرمخ بیولو غوښتنه وکړه ، نو خدای شته هغه مهال شک او تردید ډېر زیات و . خو لومړي دوه پړاوونه مو دخدای ج په مرسته ، دولس په ملاتړ او امنیتي ځواکونو په مېړانه او حرکت په ښه ډول پای ته ورسول . ددرېیم او څلورم پړاو په برخه کې یو څه ستونزې موجودې وې . ددې پړاو بریالیتوب اوسمهال یوازې او یوازې په امنیتي ځواکونو پورې تړاو نه لري . دامهال زمونږ ځواکونه دوسایلو ، وسایطو او تجهیزاتو لـه مخې پوره غښتلي او پیاوړي شوي ، خو زمونږ ځواکونه باید په رښتیا هم په بشپړه توګه ملي او مسلکي شي ، چې دابرخه یوڅه تته او کمزورې ده . له بلې خوا دغه کار یوازې په امنیت نه کېږي . مونږ ثبات او ټیکاو ته اړتیا لرو . ولس باید پر ثبات وپوهېږي ، چې ثبات یعنی څه ؟ ثبات داسلامي فلسفې پربنسټ لـه سیاست ، حکومتوالی ، عدالت ، اقتصاد او امنیت څخه عبارت دی .

**پوښتنه : ډاکتر صاحب طبعي خبره ده ، چې دغه مسایل یو له بله په تېره امنیت سره تړلي دي ، خو که عمومي وضعه همداسې دوام ومومي . بهرني ځواکونه هم په ټاکلي مهال له هېواده ووځي . اوسمهال له زیاترو اړخونو آن له تاسې سره ، چې په ځینو ویناو کې مو اشاره ورته شوې ددې پروسې په اړه شک او تردید شته . نو ګومان نه کوئ ، چې په شکونو او تردیدونو باندې اتکاء به دیوې عملي پروسې پر وړاندې ستونزې زیاتې کړي . په داسې حال کی ، چی ددغی پروسی پروتوکول هم لاسلیک شوی دی ؟**



ځواب : مونږ ځینې اړخونه باید سره تفکیک کړو. دافغانستان ولس ، دولت او نړی واله ټولنه ټول انتقال غواړي دایوه فریضه ده . (پاتې ۲ مخ)

مونږ ملي ګټې په شخصي او حزبي ګټو مقدمې بولو - ( د افغان ملت ملي مترقي ګوند )

# سرلیکنه

د انتقال بهیر ، د سولې بهیر او د سیاسي قیادت انتقال هغه درې مهمې موضوع ګاني دي چې د هیواد حال او راتلونکی ورسره تړلی دی. که وتوانیدو چې دغو درې واړو چیلنجونو ته مو په ځای ځواب وویلو نواینده به مو روښانه او نیکمرغه وي او که بریالي نشولو نو نه یوازې دا چې راتلونکی به مو د رنګ رنګ ستونزو او کړاونو سره مل وي بلکه د هیواد ملي بقا به هم له ګواښ سره مخامخ وي. بله مهمه خبره دا ده چې دا درې مسئلې د یو بل سره تړلې دي. یو بهیر په بل باندې اغیزمن دی. د مثال په ډول د انتقال بهیر او د سولې بهیر د یو بل پورې ارتباط لري . د دولت د وسله والو مخالفینو د سولې دخبرو لپاره یو له اساسي شرطونو نه دا دی چې بهرنۍ قواوې دې د افغانستان نه ووځي . دا اوس چې د سولې د مذاکراتو خبرې عملاً یا پیل شوي او یا نښې نښانې یې پیدا شوي نو دا هم د انتقال د پروسې د پرمختګ مثبت تاثیرات دي.

د انتقال د لمړۍ او دویمې مرحلې نه وروسته د دریمې مرحلې پلي کیدل هم دوام لري او هیله ده چې په ټاکلې موده کې به تکمیل شي . د دریمې مرحلې په تکمیل سره به د هیواد ۷۵ فیصده نفوس د انتقال تر پوښښ لاندې راشي. باید پوه شو چې د لیږد بهیر نه په شاه تلونکی دی او خارجې قواوې د افغانستان نه وځي . دا یو سیاسي تصمیم وو چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ د ۲۰۱۰ میلادي کال د نومبر په میاشت کې د لیزبون په کنفرانس کې پرې موافقه وشوه. د انتقال پروسې دې ته زمینه مساعده کړې چې انتقال په یوه منظمه ، سیستماتیکه ، تدریجي او منطقي توګه پر مخ لاړ شي چې د ډاکټر نجیب د وخت د انتقال نه توپیر ولري.

د امریکې دمتحده ایالاتو سره د ستراتیژیک تړون په لاسلیک او د شیکاګو کنفرانس د کامیابو مذاکراتو په نتیجه کې د امنیت په برخه کې د نړیوالو تعهداتو نه وروسته د افغانستان دولت تر کافي اندازې په ملي او نړیواله کچه اعتبار تر لاسه کړی او دا اطمینان پیدا شوی چې نړیواله ټولنه به په عام ډول او امریکه او غرب په خاص ډول د ۲۰۱۴ م نه وروسته هم زمونږ امنیتي ارګانونو سره د تمویل ، تخیکي همکارۍ او روزنیزه برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي. دې وروستیو مثبت ګامونو د ولس اندیښنې کمې کړي او هیلې یې زیاتې کړي دي او د راتلونکې په باره کې بې باوري تر یوه حده کمه شوې ده خو دا کافي نده ځکه تر څو د سولې پروسه بریالۍ نشي نو انتقال به څه معنا ولري.

د مخالفینو سره د سولې په ارتباط دوه متوازي پروسې دوام لري. د حکومت لخوا ټاکل شوی د سولې کمیسیون چې ښاغلی صلاح الدین رباني یې مشري په غاړه لري افغاني پروسه ده ، بل طرف ته امریکې په مستقیمه توګه هم د طالبانو سره د سولې مزاکراتو په خاطر هلې ځلې پیل کړي او په قطر کې یا د دوی لپاره دفتر خلاص شوی او یا موافقه پرې شوې. خو اصلي خبره دا ده چې د منطقې په سطح د سیاسي حل لپاره څومره پرمختګ شوی او یا کومه طرحه جوړه شوې او یا د جوړیدو په حال کې ده ؟ د داسې یوې طرحې د نه شتون په صورت کې د سولې د پروسې بریالیتوب یو غټ سوال دی. د منطقې په سطح د پاکستان نقش کلیدی دی او هغه ځکه چې ایا د دولت وسله وال مخالفین په خپلو تصامیمو کې استقلالیت لري؟ بله دا چې مخالفین هم په ډلو ویشل شوي او هره ډله ځانګړې رهبري او اهداف لري. دا احتمال هم شته چې دا ډلې تکتیکي اوسي. تر اوسه چې د سولې په ارتباط کوم ګامونه پورته شوي مثبت پرمختګونه یې بللی شو ولې تر څو د سولې په اړه یو جامع فکر و نشي چې د هغې پر اساس افغان دولت ، نړیواله ټولنه او ګاونډیان یوې نتیجې ته ورسیږي د سولې مزاکرات به خپل اغیزمنتوب له لاسه ورکړي.

د انتقال او د سولې د پروسو تر څنګ د افغانستان د راتلونکي زعامت ټاکل هغه مهمه موضوع ده چې ددې هیواد سیاسی او اقتصادي ثبات ، نیکمرغه راتلونکی او د هیوادوالو هوسا ژوند ور سره مستقیم تړاو لري. په ۲۰۱۴ کې د ولسمشر کرزي دویمه دوره پای ته رسیږي او قانون اساسي د دریمې دورې اجازه نه ورکوي او ولسمشر کرزي هم ویلي چې دی هیڅ داسې هڅه نه کوي چې د ده د دریمې دورې د کاندیداتورۍ لپاره زمینه مساعده کړي . اوس نو هیوادوال باید د راتلونکي مشرتابه په اړه دقیق فکر وکړي. دا یو واقعیت دی چې تیرو دولسو کلونو بیل خصوصیات درلودل او اوس وضع بدله ده. هیواد په سیاسي ، نظامي او اقتصادي لحاظ بیل شرایط درلودل چې د اوسنیو شرایطو سره ډیر توپیر لري. ولسمشر کرزي په هغو شرایطو کې هیواد داسې رهبري کړ چې د همداسې قایدانه صفاتو ته اړتیا وه. اوس باید افغانان د موجوده شرایطو په رڼا کې د یو داسې مشرتابه په اړه دقیق فکر اوکړي ځکه د افغانستان راتلونکی تر ډیره حده د راتلونکي زعامت د ظرفیت، د رهبرۍ استعداد ، سیاسي او اقتصادي پوهې او پختګۍ او په ملي او نړیواله سطح مشروعیت پورې اړه لري.

که د لوی خدای په توکل او مرسته او د ملت په ټینګه اراده په درې واړو ملي پروسو کې بریالي شولو نو دې کې هیڅ شک نشته چې د دې هیواد راتلونکی به نیکمرغه وي. دا اوس د افغانانو د سیاسي شعور او ملي وجدان پورې ارتباط لري چې د دوی په نظر څوک د داسې صفاتو لرونکی دی چې راتلونکی افغانستان د نجات او ثبات پر لور رهبري کړي.

## پاتې: ډاکټر اشرف غني احمدزي سره ..............................

**پوښتنه : یعني دا دتاریخ یو جبر دی ؟**

**ځواب** : که انتقال په یوه ورځ یا شپږو میاشتو کې شوی وای دابه یوازې جبري برخه وای . دجبر او اختیار ترمنځ یو تعادل او تله په کار ده . جبر یې دادی ، چې هم یې ولس غواړي او هم یې دنیا . اختیار یې په دې کې دی ، چې موږ ته لا دوه کاله پاتې دي . که موږ له امکاناتو او وخت نه ګټه اخلو زیاتره خلک دامکاناتو په برخه کې منفي تبصرې کوي . له بده مرغه چې دوی زموږ قول اردو ګانو ته نه دي تللي . زما وړاندیز داسې اشخاصو ته دادی ، چې دوی دې زما سره یوځل قول اردو ګانو ته لاړ شي . وبه ویني ، وابه وري که یې برداشت او نظر هماغسې پاتې شو او خبره زړه په زړه وه نو بیا دیو بدلو ن پر لار باید فکر وکړو . په دې برخه کې تاسې ته یوه ژوندۍ بېلګه وړاندې کوم . یو مهال دولسي جرګې غړي قوماندان جبار قهرمان په ګډون یوشمېر نورو وکیلانو او مخورو شخصیتونو له ماسره هلمند ته سفر وکړ . هلته یې له نږدې قول اردو ولیده . سمدستي یې نظر مثبت څرګند کړ او ویې ویل : دا اردو له هوایي ځواکه پرته د ډاکټر نجیب ددور له ټولې اردو نه مجهز دی . دومره امکانات چې اوسمهال یوازې دهلمند ولایت له اردو سره شته ، هغه مهال له ټول اردو سره نه وو . اوس نو ددې مدیریت او مشرتوب زموږ داخلي دنده ګڼله کېږي . په دې برخه کې دنړۍ والې ټولنې دمرستې ژمنه له موږ سره شته . بل که داپروسه د ډاکټر نجیب ددور له پروسې سره پرتله کوئ ، نو دا له هغه سره جوت توپیر لري . لومړی تر هرڅه وړاندې زموږ ولس بیا مهاجرت نه غواړي . خپل هېواد ته ژمن دی . نه غواړي چې پردیو ملکونو ته لاړ شي او خیرو خیرات ته کېني او نه څوک زموږ ولس نور دمهاجر په توګه مني . نو دا باید هم ومنو چې افغانستان زموږ هم کور دی او هم ګور . داکور باید جوړ کړو .

دویم نړۍ والې ټولنې دا منلې او درس یې اخستی ، چې افغانستان به یوازې نه پرېږدي . دکابل ، شیکاګو او توکیو کنفرانسونو جوړېدل له افغانستان سره دنړۍ والې ټولنې دمرستې دژمنتیا یو څرګند ثبوت دی . نو موږ باید له دې امکاناتو نه ګټه واخلو . دربیمه بنسټیزه خبره داده چې ددې دوو کلونو په ترڅ کې باید په دولت کې پوره بدلون او سمون راشي . امنیت دثبات مرستندوی دی.

**پوښتنه: ډاکتر صاحب اوس راځو دسولې بهیر ته . ددغې پرسې دکامیابۍ چانس څنګه دی ، زموږ قطعات شته چې دغه بهیر بریالی کړي که خدای مه کړه دغه پروسه له ناکامۍ سره مخ شي ،نو منفي اغېز به یې زموږ پر وسله والو ځواکونو څنګه وي ؟**

**ځواب** : موږ باید دا ومنو چې سوله او جنګ دواړه ځانته قېمتونه لري . دجنګ او سولې پر قېمت باید وغږېږو. دجنګ قېمت دادی چې نن په هر ولایت کې داسې ورځ نه شته چې ملي اردو او ملي پولیس شهیدان ورنه کړي . پولیس او اردو رضاکاره دي . بل لورته ملکي تلفات دي چې وار وار پرې غږېدلي یو . که دا ټول سره وځیړو نو دې ټولنې دجنګ لوی قېمت ورکړی دی . دسولې بهیر قېمت پرې کولو ته تر هرڅه وړاندې باید د افغانستان سیاسي قشر حاضر شي . ځکه هغه هېوادونه چې په اوږده جنګ کې ښکېل وي . کله یې وسله وکارېږي او یو دولت دوسلې دکاروني انحصار ونه لري . هغه د جنګ تعریف وړاندې کوي . په دې حالت کې جنګ څنګه په سوله بدلېږي ؟ ځواب یې دادی ، چې ټول خلک په یو بنسټیز چوکاټ کې سره راټول شي . که موږ دیو ژوندي ملت په توګه دسولې دقېمت څرګندولو په باب پرېکړه ونه کړو نو پایلې ته نه رسو . په دې باب باندې خبرې رواني دي . خو ترڅنګ یې اندېښنې هم شته . دسولې چوکاټ یو سیاسي چوکاټ دی . هغه خلک چې وسله لري ، هغوی ځان په یو سیاسي بهیر او یا سیاسي غورځنګ کې ور ګډوي . دوی اصولو ته راځي . موږ باید په دې برخه کې کار وکړو ، چې یوې رښې پایلې ته ورسو.

**پوښتنه : دسولې بهیر خو له ډېر وخته راپدېخوا پیل شوی ، په دې برخه کې ستاسې له نظره دکومو اقداماتو اړتیا ښکاري چې عملي پایلې ته ورسو ؟**

**ځواب** : عملي پایله دیوې ولسي ملکي جرګې په جوړښت کې نغښتې نو دهېواد مخور شخصیتونه ، ولسي او سیاسي مشران ، علماء او سیاسي بنسټونه ، مدني ټولنې په بنسټیزه توګه دهېواد ستونزې او امکانات دواړه وسنجوي . له سولې نه باید دفوټبال توپ جوړ نه شي . دافغانستان خلک دې پایلې ته رسېدلي چې د زور واکۍ له لارې ثبات او ټیکاو ته نه رسي . که پایله مو همدا وي نو په کار دادي چې ددې پایلې دڅرګندولو او روښانولو لپاره یو ملي بحث پیل کړو . په دې توګه موږ باید دیوې ټولنې په توګه ، نه یو دفرد په توګه ددې ملي بحث لپاره راټول شو . زه دهېواد پر هر وګړي غږ کوم چې په هېواد کې د ټیکاو او ثبات لپاره سیاسي بحث ته ننوځي . او د ولسي ملي جرګې ، چې دهېواد دستونزو حل او ټیکاو ته لار مومي ملاتړ وکړي .

**پوښتنه : یعني دسولې لپاره باید په ټول افغانستان کې یو واحد نظر پیدا شي ؟**

**ځواب** : هو دیو واحد نظر درامنځته کېدو له لارې موږ دسولې بهیر پیاوړی کولی شو . ما له ۱۹۹۰ نه تر ۲۰۰٤ کاله پورې دسولې لپاره چې کوم تړونونه اوپرېکړې په هېوادنی او بهرنی کچه شوې وې ټولې راټولې او سره ومې څېړلې . طبقه بندي مې کړې او بیا مې پرې یوه مفصله لیکنه وکړه . دسولې بحث باید ټولې خواوې د یو ملي بحث په توګه ومني .

خو تر دامهال دغه بحث ملي رنګ او بڼه نه لري .دغه بحث یوازې دکمېسون په دېوالونو کې را ایسار دی . کمېسونونه طبعي خبره ده چې په نسبي ډول ګټور دي او یا نه دي . خو دا بحث یو ولسي او ملي بحث دی . دبهرنیانو نظر هم نن بدل شوی او دې پایلې ته رسېدلي چې هر وګړی دسولې بحث ته اړتیا لري . له ښه مرغه دوی نن دسولې دمنلو لپاره دولسمشر او دولت نظرونه منلي . پخوا دا پوهه نه وه ، نظر داو چې دا مسئله دزور له لارې حل کېدای شي او یا په زور کلي کېږي . دوی په زور کلی کاوه . خو نن باید پردې فکر یو بنسټیز چوکاټ جوړ کړو ، چې په راتلونکي کې څنګه یو مشروع ځواک رامنځته کېدی شي او بیا ترې مشروع ګټه اخستل کېدی شي . پر همدې بنسټ موږ څنګه کولای شو ، چې یو مشروع سیاست رامنځته کړو .

**پوښتنه : ډاکتر صاحب ستاسې دنظر په رڼا کې سړی دې پایلې ته رسي چې دسولې ننۍ پروسه له شتو امکاناتو سره نه شي کولای ، چې په رښتیني توګه سوله رامنځته کړي . په داسې حال کې چې موږ پر سولې باندې ولاړ یو . خو تر ۲۰۱۴ کاله پورې دغه پاتې کلونه به رانه د سترګو په رپ کې تېر شي . که دا پروسه همداسې روانه وي او تر څنګ یې زموږ دپوځ وضعیت هم دا ډول وي . تر دې چې تاسې هم په ځینو برخو کې پوره ډاډ نه لرئ . نو تاسې د ۲۰۱٤ کال تصویر څه ډول وړاندې کولای شئ .**

**ځواب** : زما خو تر هرڅه وړاندې دنده داده چې ستونزې تحلیل کړم او له مقاماتو سره یې حل شریک کړم . زما زړه دیو افغان زړه دی . په دې یقین لرم چې موږ په ۲۰۱٤ کال کې دیو ملي پاینښت له ازموینې وځو.
په کوم دلیل ؟ په دې دلیل چې موږ یو ملت یو او هر ځل چې یو مسئله په ملي مسئلې اوښتې نو داملت یې له ازموینې وتی دی .
له دې پرته نور موږ بله چاره نه لرو .

**پوښتنه : له دې ملته دیوې ورځې د رامنځته کېدو لپاره دکوم ولسي انقلاب تمه لرئ که څنګه ؟**

**ځواب** : زما غوښتنه او هیله له دې ملته دیو ملي او هېوادني بحث ده . تاسې په همدې تېرو کې دوو ملي جرګو ته لېږ تم شئ . دانتقالي حکومت د رامنځته کېدو او بله داساسي قانون جرګه ښیم . دغو جرګو دملي او هر اړخیز بحث لپاره ښایسته فضاء لرله . پر دغو جرګو تر لس پنځلس میلونو زیات ډالر ونه لګېدل . خو پر ټاکنو مو شاوخوا یو میلیار ډالر ولګېده ، پایلې یې هم له لانجو ډکې وې .

**پوښتنه : خو دجرګو جوړښت اوپرېکړه داساسي قانون پر بنسټ ددولت کار دی ، قانوني چوکاټ یې ورته جوړ کړی ؟**


**ځواب** : نه ، یوه هغه جرګه ده چې دولت یې رامنځته کوي او یوه ولسي یا ملي جرګه ده . تاسې وګورئ داساسي قانون او دانتقالي اداري درامنځته کېدو جرګې ولسمشر نه دي رامنځته کړي . بلکې مشورتي جرګې یې جوړې کړي دي . جرګه زموږ افغاني دود دی . هېڅوک دیوې جرګې دجوړېدو مخنیوی نه شي کولای . نو پر همدې بنسټ زه پر افغان ولس غږ کوم چې داندېښنو دلرې کولو او سیاسي ستونزو ته دحل لارې موندلو لپاره دیوې ولسي ملي جرګې پر ټغر راټول شئ . پر ملي مسایلو ملي بحث وکړئ . دملي بحث لپاره جرګه زموږ ښه دود دی. په ۲۰۱٤ کې یوازې دامنیت خبره نه ده . اقتصادي ستونزې او د رنو ټاکنو ترسره کېدا مو هم مخکې پرته ده .

**پوښتنه : ډاکتر صاحب یوه بله مهمه مسئله د ټاکنو ده . څومره ډاډمن یاست چې د ۲۰۱٤ کال ټاکنې به رڼې وي او دسمون پر لور به ګام پورته کړو ؟**

**ځواب** : لومړۍ خبره داده چې د ټاکنو پایلې باید ومنل شي . ما خو ځکه وړاندې د همدې موضوع لپاره دیوې ولسي ملي جرګې دجوړېدو غوښتنه وکړه . په ۲۰۱٤ کال کې به اقتصادي ستونزې وي . خو اقتصادي ستونزې موږ نه چپه کوي . دوه شیان موږ ته اقتصادي ستونزې پیدا کوي . لومړی غلطې ټاکنې . کله چې ټاکنې دسیاسي قشر له خوا ونه منل شي ،په ولس کې ستونزې رامنځته کېږي . ولس ستونزه نه غواړي . ددغو ستونزو مسوول سیاسي قشر دی . تر هرڅه وړاندې پر یو ملي تړون او پروګرام باندې موافقه په کار ده . چې څه غواړو افغانستان په پښو ودرېږي . هرڅوک باید یوه اندازه ګذشت ته تیاری ونیسي . که دا دزغم او ګذشت فرهنګ نه وي . ګډ ودې ته لاره هوارېږي .که فکر کوئ چې هر چېرته به دسړي رایه وشمېرل شي نو دا چاره ستونزمنه او سخته ده . اصلي خبره داده چې پایلې باید رڼې او مشروع وي . دولسمشر لومړي انتخابات مشروع او په قوت رامنځته شول .بیا همداسې لویه جرګه در واخلئ . اوس هم مشروعیت په کار دی او دمشروعیت دایجاد لپاره بحث ته اړتیا ده . که چېرته دغه بحث رامنځته شي . ټاکنې رڼې وي او له ستونزو سره مخامخ نه شو نو زما په فکر ددې دور پاتې کلونو په اوږدو کې باید یوه ځواکمنه کابینه رامنځته شي . دغه کابینه د ۲۰۱٤ کال لپاره یو ښه پل کېدای شي . لکه څنګه چې د لومړي ځل لپاره ولسمشر داساسي قانون له مخې ټاکل شوی و نو واک هم باید په همدې ترتیب پرېږدي . دټولنې له خوا باید بیا ددې دریځ دیو ملي شخصیت په توګه وټاکل شي . که دا ووایو چې ځینې تېروتنې او اشتباهات یې کړي . خو زښت زیات ګذشت او زغم نه یې هم کار اخیستی . موږ نه غواړو چې دولسمشر په باب دپاکستان پرچلند واوړو . چې ورسره دبوټواو یا د مشرف په څېر چلند وشي . پر دې باید موږ ټول باور او داډ ولرو چې په خپله خاوره کې خوندي او مسوون ژوند کولای شو .

## د سید صابر شاه صابر په نوي کتاب ( د میدان ښار سفرنامه ) تبصره

وصلی خان ملاخیل




د میدان ښار سفر د پښتونخواه د نومیالي شاعر ، لیکوال ، سفرنامه نګار او څیړونکي ښاغلي سید صابر شاه صابر یوه نوې سفرنامه ده چې د میدان ښار د سفر په اړه یې لیکلې ده. صابر شاه د هیڅ تعارف محتاج ندی. د ده د نوم سره د لر او برهر پښتون ادیب ، شاعر ، لیکوال او د پښتو ادب مینه وال اشنا دی. صابر شاه نه یوازې د پښتو ادب یو تکړه لیکوال او د لفظونو جادوګر دی بلکه سیاسي پوهه او شعور ، پښتونولي ، او د افغانستان او افغانانو سره مینه یې هم له چا نه کمه نده چې دغه وروستی سفر او سفرنامه یې ښکاره ثبوت دی. صابر شاه هره خبره سپینه سپینه کوي او لوستونکې د ډیرو حقیقتونو او واقعیتونو نه خبروي. دا حقیقتونه کله خواږه خو کله تراخه هم وي. د لیکوالۍ همدا طرز د ده تصانیفو ته ښکلا او خوند ورکوي او خلک یې ډیر په شوق لولي.

صابر شاه د میدان وردګو فرهنګپال او د ادب مینه وال والي محمد حلیم فدایي صاحب په خاصه بلنه میدان وردګ ته سفر کړی وو چې اساسي هدف یې د منې ګل یوولسمې دودیزې مشاعرې کې ګډون وو چې په دې دوران کې صابر شاه او د هیواد ستر ملي شاعر او د ملي سرود لیکوال ښاغلي عبدالباري جهاني ته د عقیدت پیرزوونې وړاندې شوې او د دوی د ادبي خدماتو د اعتراف په توګه دواړو ته پټکي په سرکړای شول. په پښتون کلتور کې پټکی په سر کول غټ افتخار ګڼل کیږي. د دې سفر او سفرنامې لوی محرک مبارز او نومیالی شاعر ښاغلی میر زمان جبارخیل دی ځوک چې د لیکوال سره د پیښور نه تر میدان ښار پورې د سفر ملګرتیا کړې او چیرته چې لازمه وه خپل نقش یې لوبولی دی .

د صابر شاه سفر د پیښور نه پیل کیږي او په میدان ښار ختمیږي وروسته بیا لیکوال د پغمان سیل هم کوی او بیرته پیښور ته راستنیږي. هغه څه چې په میدان ښار کې تیریږي هغه خو طبعي ده چې لیکوال په خپله سفرنامه کې قلمبند کړي دي خو هغه څه چې د پیښور نه میدان ښار ته تلو کې لیکوال لیدلي او د خپل قلم په ژبه یې بیان کړي لازیات خوندور دي. صابر شاه په خپله لیار کې قدم په قدم تیر تاریخ ته ځي او پخپله خوږه ژبه زاړه یادونه را تازه کوي او د دې وطن د عظمت قیصې بیانوي. صابر شاه د ارواښاد شمس الهدا شمس په وار وار یادونه کوي او عقیدت پیرزوونې ورته وړاندې کوي او د پیښور د وخت تیر وختونه رایادوي. لیکوال د خپلو هغو دوستانو نه ګیله مند هم دی چې د مهاجرت په دوران کې ورسره دی نږدې پاتې شوی وو او صابر شاه خو د خپلې میزبانۍ حق په پوره صداقت ادا کړی وو ولې د دې ملګرو چې اوس لوړو لوړو پوستونو ته رسیدلي او دی یې اوس هیر کړی دی چې د صابر شاه په وینا دا د پښتون خصلت ندی او بله دا چې دی وایې کابل زمونږ مشر وروردی او مشرانو ته کشران ګیلې کوي.
صابر شاه د میدان وردګ والي د خاکسارۍ او متانت نه ډیر متاثر دی او وایي چې هغه کې د ګورنرۍ نشه نشته او ورسره دا متل وایي چې « د سلو کالو اوړی به په سلو کې مور نشي او د سلو موړ به په سلو کالو کې وږی نشي » لیکوال د افغانستان د پاسپورټ د کنټرول مسئولینو نه ډیر شکایت لري او وایي چې هلته څوک په پښتو نه پوهیږي او سمه وضع هم له چا سره نکوي .صابر شاه د هغو شخصیتونو یادونه کوي چې ده سره یې نیږدې اړیکې ساتلي او دی ورنه ډیر متاثر دی او عقیدت ورته لري د مثال په ډول اجمل خټک ، ایاز داودزی ، عبدالله غمخور ، شمس الهدا شمس ، ارباب سیف الرحمن ، عنایت الله ګران او داسې نور. صابر شاه په خپله سفرنامه کې د افغانستان د تاریخ یو لنډ تصویر په ډیره فنکارۍ وړاندې کوي چې د لوستونکې احساسات هم راپاروي. د میدان وردګ د نومیالیو شخصیتونو ذکر هم کوي لکه محمد جان خان وردګ ، غلام محمد فرهاد ، قدرت الله حداد ، ډاکټر وکیل ، حبیب الله رفیع او داسی نور .

صابر شاه ځای پر ځای په افغانستان کې د پرمختګ نښې نښانې لکه پاخه سرکونه ،دنګ دنګ بلډنګونه او ګرم بازارونه ویني او ورنه ډیر متاثر دی .لیکوال ته څه پته ده چې په تیرو دولسو کلونو کې دې هیواد ته څومره په ملیاردونو ډالر راغلل او که په صحیح توګه دا پیسې مصرف شوې وای نو څو چنده زیاته ابادي به پرې شوې وای او بله دا چې دا هر څه د مرستو په پیسو شوي نه زمونږ د ملي اقتصاد د ودې په برکت دا چې دوام به یې څومره وي دا ټول ولس سره یو سوال دی.

د افغان ملت د اخبار اداره ښاغلي صابر شاه ته په کامیاب سفر او په زړه پورې سفرنامه مبارکي وړاندي کوي او د میدان وردګ د والي محمد حلیم فدایي صاحب او میرزمان جبارخیل صاحب نه هم ډیره مننه کوي چې د دې سفر لارې چارې یې برابرې کړې او زمینه یې ورته مساعده کړې .

## د ارواښاد قدرت الله حداد په یاد

شیر محمد بریمي ستانکزی

دریغه دریغه ای فلکه له تا څه ښکلی حداد لاړ
د فرهاد بابا له کوره د افغان ملت بنیاد لاړ

د افغان ملت حامي وو د اخبار هم چلونکی
دی ثاني پاپا فرهاد وو له نړیه نامراد لاړ

مهاجر شو پیښور ته رقیبانو ځورو ډیر
خواخوږي په ده ونشوه له دې ځایه په فریاد لاړ

مجبوریت نه مهاجر شو دویم ځلې امریکې ته
یو ملې شخصیت مو کم شو په راسخ عزم پولاد لاړ

امریکې کې یې په ډاګه خپل مرام هدف ته کار کړ
د دې جرم مرتکب وو په ارمان د خپل هیواد لاړ

دنګه ونه لویه سټه همیشه خله یي مسکۍ وه
ارمانونه به پرې و شي شخصیت په بل بلاد لاړ

واټنونه شو په مینځ کې پټ اسرار ورسره زړه کې
پوهول ده ولسونه د افغان غیور استاد لاړ

د الله خوښه رضا وه مدام ژوند نوې دنیا کې
د نیمګړې دنیاګۍ نه د لوی خدای په اعتماد لاړ

استاد ګنج د بیابان نه یې ګارد نه محافظ وو
لویه پټه خزانه وه بې له ګټې په تضاد لاړ

افغانانو دا فطرت دی کله کار اخلي ژوندي نه
ماتمونه جوړ په مړي وایي بیا ښه آدمزاد لاړ

خیال او فکر کله بیل شو غل غدوی سره ډیر مړه دي
سالم فکر قضاوت شي دی سپیڅلی پاک نهاد لاړ

د ملي ګټو حامي وو اسلامي یې مفکوره وه
ابدالي برم لپاره په خپل اند کې ډیر ازاد لاړ


د جمعې مبارک ورځ د لیندۍ پینځه ویشتمه
اتیا کاله عمر تیر شو د وطن ناجي اولاد لاړ

بریمي له لویه خدایه مغفرت تل درته غواړي
مسلمان افغان په توګه زمونږ له مینځه ښه جواد لاړ

## په پښتونخواه او افغانستان کې اختر په یوه ورځ ولمانځل شو

لکه د هر کال پشان دا ځل هم په پښتونخوا کې د کوچني اختر په ارتباط د پاکستان د مرکزي هلال کمیټۍ او ولایتي کمیټۍ تر منځ د اختلاف پیدا شه او بالاخره ولایتي کمیټې د پښتونخواه ولایتي حکومت نه غوښتنه وکړه چې د یکشنبې په ورځ د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۹ مه د کوچني اختر لومړۍ ورځ اعلان کړي پداسې حال کې چې مرکزي حکومت د دوشنبې په ورځ کوچنی اختر ولمانځه .

د پښتونخواه د ایالتي حکومت د اطلاعاتو وزیر ښاغلي بشیر بلور د ولایتي هلال کمیټې د فیصلې په تایید په پښتونخواه کې د کوچني اختر اعلان وکړ او زیاته یې کړه چې مرکزي هلال کمیټۍ د دوی شاهدي نه مني. بل طرف ته د قاسم علي خان جومات مولانا پوپلزي هم د مرکزي هلال کمیټۍ نظر و نه منه او د یکشنبې په ورځ د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۹ مه یې د کوچني اختر لومړۍ ورځ اعلان کړه . دغه شان پښتونخواه او افغانستان په یوه ورځ ورکوټي اختر ولمانځله.



د افغان ملت مترقي ګوند غړی جلال شمس د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر ښاغلي محمود خان اڅکزي سره (کویټه ۲۰۱۲ میلادي)

# ځوان افغانستان

جلال شمس

یو سروې ښایي چې په افغانستان کې په سلو کې ۷۰٪ خلک د ۳۰ کلو څخه کم عمر لرونکي دي چې په دې اساس نن افغانستان د نړۍ د ځوانو هیوادونو په قطار کې ځای لري. یو هیواد چې ۷۰ فیصده نفوس یې ځوانان تشکیلوي او د داسې هیواد ځوانان د هیواد په اداره کولو او چلولو کې فعاله برخه وانخلي نو داسې هیواد به څرنګه پرمختګ وکړي؟ د پورتنیو ارقامو په رڼا کې ویلی شو چې د ځوانانو ونډه په نني افغانستان کې ډیره اړینه ده.

مونږ هره ورځ اورو او ګورو چې زمونږ ځنې ځوانان تروریزم ته مخه کوي او ځینې په نورو مختلفو جرایمو کې ځان ښکیلوي. یوه وجه یې دا ده چې اکثر ځوانانو لپاره د د دولسم صنف د فراغت نه وروسته د تحصیل زمینه نه مساعدیږي. کله چې د کانکور په ازموینه کې زمونږ اکثر ځوانان د ناکافي پوهنتونونو له کبله بې نتیجې پاتې شي نو په کور کیني او د مایوسۍ ښکار شي. ځنې یې مختلفو جرائیمو ته مخه کړي. د ناوړه اقتصادي او اجتماعي شرایطو ، بې کارۍ او فقر له کبله د یو ځوان احساسات او جذبات په غلته لیار استعمالیږي نو که سم شرایط ورته برابر کړو نو دغه احساسات او جذبات د هیواد د پرمختګ او د ټولنې د خدمت لپاره هم استعمالیدی شي.

بله مهمه خبره دا ده چې زمونږ په ځوانانو کې د سیاسي شعور کمښت دی او همدا لامل دی چې په مونږ کې یو ولسي مشر نه پیدا کیږي. بله دا چې زموږ په هیواد کې سیاست دومره بدنام شوی دی چې څوک چې چاته دوکه ورکړي نو وییل کیږي چې غټ سیاست یې ورسره وکړو مطلب دا چې دلته سیاست یوازې یوه دوکه او فریب دی . ځکه خو زمونږ اکثر ځوانان د سیاست نه ځان لیرې ساتي.

لکه څرنګه چې شروع کې وویل شو چې افغانستان یو ځوان هیواد دی خو بدبختانه چې هیواد خو ځوان دی خو په دولتي چارو کې مو د ځوانانو نقش د نشت برابر دی. د یو ځوان افغانستان لپاره یوه ځوانه اداره ډیره مهمه ده او د یوې ځوانې ادارې لپاره تعلیم یافته او پوهه ځوانان ډیر ضروري دي .نن په هیواد کې دننه او د هیواد نه بهر د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې افغاني ځوانان په لوړو زده کړو بوخت دي چې همدوی به د یو اباد او مترقي افغانستان روښانه اینده اوسي خو پدې شرط چې زمینه ورته مساعده شي. د یو ځوان افغانستان په هیله

## د ولسمشر فرمان او د ولس ..................

ولسمشر د حکومتدارۍ د ستونزو د منځه وړلو او د اداري فساد پر ضد د مبارزې په اړه مخکې هم ډیر تاکید کړی او په کابینه کې یې په وزیر صاحبانو وخت په وخت فشار راوستی خو تر اوسه یې نتیجه نده لیدل شوې . اساسي سوال دا دی چې هغه اشخاص چې په اوسنۍ اداره کې حاکم دي او د وزیرانو نه واخله تر رییسانو او مدیرانو په پوستونو کار کوي ایا دوی د تخنیکي وړتیا او کاري سابقې په اساس ګمارل شوي او که یوازې د سیاسي مصلحتونو او شخصي اړیکو پر اساس. بله دا چې دیانت او وطن سره تعهد هم کوم معیارونه ګڼل کیږي او که نه. د تیرو نږدې دولسو کلونو تجربې خو دا ښودلې چې اکثر لوړپوړي چارواکي د ظوابطو پر ځای د روابطو او سلیقو پر اساس ټاکل کیګي او دا لړۍ اوس هم دوام لري. د مثال په ډول په ټولو وزارتونو او خپلواکو لویو ریاستونو کې د معینانو پوستونه هم سیاسي دي . هر څوک چې د وزیر په طبعه وي که عالي تحصیلات او کاري وړتیا یې لري او که نه د معین په توګه ټاکل کیږي. په نورو هیوادونو کې د معینانو پوستونه همیشه تخنیکي وي او معینیتونه د وزارتونو د دایمي نهادونو په توګه خپلې چارې پر مخ بیایې او د وزیرانو په بدلیدو دومره نه اغیزمن کیږي. دا منو چې زمونږ ادارو کې به ډیر داسې اشخاص هم وي چې تخنیکي ظرفیت به لري او فساد کې به هم ښکیل نه وي خو داسې اشخاص اقلیت تشکیلوي او موثریت یې کم دی. بله دا چې ستونزه یوازې د اشخاصو په بدلیدو نه بلکه په نظام کې د اساسې اصلاحاتو په راوستلو حل کیدای شي. ایا زمونږ په موجوده دولتي اداره کې داسې څومره څیرې شته چې لیاقت یې تر دې حده وي چې په سیستم په سطح پوهه ولري او سیستم جوړ کړي. بدبختانه زمونږ اکثر چارواکي د سیستم په چلولو کې ستونزې لري نو سیستم جوړول او ورته تغیر ورکول خو ډیره لیرې خبره ده.

اوس راځو بیا د ولسمشر فرمان ته چې ولس یې بیا د سوالونو او اندیښنو سره مخامخ کړی دی چې ایا دا فرمان به واقعي کوم مثبت بدلون رامنځ ته کړي تر څو د دوی اعتماد په حکومت په عام ډول او په خپل ولسمشر په خاص ډول راپیدا شي او که دا به یوازې د کاغذ پر مخ یو فرمان اوسي چې هیڅکله به هم د حقیقت او تطبیق ډګر ته ونه رسي . داسې ښکاري چې د خلکو صبر نور تمام شوی ، ولس نور له تشو ویناوو ، فرمانونو او راپورونو نه په تنګ شوی ، ولس عمل او تطبیق غواړي.

دا به د وخت نه مخکې وي چې ووایو چې ولسمشر په خپل وروستي دریځ کې جدي دی او که نه . امیدواري هم شته خو په خوا کې یې تشویشونه هم. که څه هم د ولسمشر دا وروستی حرکت د ده د پخوانیو دریځونو سره توپیر لري ځکه دا فرمان حقوقي او قانوني حیثیت لري. که خدای مکړه دا یو واري بیا د سیاسي مصلحتونو ښکار شي او ولس په دې نږدو کې یو مثبت حرکت او نه ویني نو دا فرمان به د ګټې پر ځای تاوان وکړي او د دولت او ملت تر منځ فاصله به لا زیاته شي.
د سیستم جوړول ، بدلول او په نظام کې بنسټیز تغیرات راوستل ساده او اسان کار ندی. وخت ته اړتیا لري. ولس هم باید د صبر نه کار واخلي . د افغانستان ولس ډیر صابر دی او صبر د دوی لپاره کومه نوې تجربه نده. که چیرې ولس پدې قانع شي چې ولسمشر واقعي د دوی سره ولاړ دی او د دوی ستونزې ورته خپلې ستونزې ښکاري او د یو مثبت حرکت نښې نښانې ووینې نو دوی بیا د یو روښانه راتلونکې په امید نور انتظار هم ویستلی شي.
پدې هم باید پوه اوسو چې د ولسمشر د دې وروستي اقدام تطبیق او بریالیتوب یوازې د ولسمشر د شخص پورې ارتباط نلري بلکه د دولت ټول چارواکي او په خاص ډول د ادارو مشران د ایماني ، وجداني او وظیفوي مسولیت پر اساس باید د یو واضح او شفاف میکانیزم له لیارې لازمه امادګي ونیسي او په خپلو اړونده ارګانونو کې لازم اصلاحات راولي تر څو افغانان د بهرنیانو د وتلو نه وروسته په واقعي ډول د دې وطن واګې په لاس کې واخلي.

## ملي ګټې ................................................

او د جنګ له کبله پیدا شوې ستونزې به تر یو حده حل شي خو باید متوجه اوسو چې زمونږ مشران د ولس د صبر امتحان باید نور وانخلي ګنې نه به یې خدای اوبښي اونه تاریخ . کامیاب ملتونه هغه دي چې ولس یې خپلو ملي ګټو ته په شخصي ګټو اولیت ورکوي . خو له بده مرغه د تیرو ۳۴ کلو راهیسې زمونږ ملت کې د بیروني مداخلتونو له کبله د ملت پالنې احساس کم شوی چې په نتیجه کې یې د هغه خلکو مخه نیول شوې چې غواړي دا هیواد صلحې اوثبات په لور بوځي.
افغانان طبیعتاً په وطن مین دي او همیشه یې د خپل ټاټوبي نه کلکه دفاع کړې ده . له بده مرغه زمونږ د وینو او قربانیو له کبله نورو هیوادونو ګټه پورته کړه او اوس هم د افغانستان د دوامداره بې ثباتۍ په نتیجه کې دا حالت دوام لري . په افغانستان کې روان جنګونه د ډیرو هیوادونو لپاره د خالي چیکونو مثال لري . ( یعنې دوی کولی شي چې هر رنګه ګټه ترې پورته کړي پورته کولای یې شي ) د نظر اختلاف مشروع عمل دی خو مونږ باید دا اجازه ورنکړو چې دغه د نظر اختلافات زمونږ په ملي ګټو باندې تاثیر ګزار شي.
دا یو واقعیت دی چې هر شی خپل دوران لري او ختمیږي په شمول د خلکو چې په قدرت او حکومت کې اوسي ، خو هغه څه چې پاینښت لري هغه پوهه ده ، ښوونځي دي او تعلیمي ادارې دي. که په قدرت کې هر څوک وي دې ادارو کې به درس لوستل کیږي چې دا به د ټول ملت په ګټه اوسي. یو چا د یو جاپاني عالم نه د اتم بم نه وروسته د هغوی دبې ساري پرمختګ په اړه پوښتنه اوکړه ، نو هغه په ځواب کې وویل چې کله جاپان د تباهۍ سره مخامخ شو نو هغوی هر کتاب چې به په مخه ورتلو نو جاپاني ته به یې ژباړلو او خپله ټولنه یې تعلیم یافته کړه. مونږ په دري ژبه کې ډیر علمي اثار لرو باید په پښتو یې وژباړو.

د یو هیواد د بریالیتوب یواځینۍ لیار پوهنه ده . که هرڅومره هم د نظر اختلاف ولرو د یو ملت په صفت باید پدې متفق اوسو چې تعلیمي موسسات زمونږ د هیواد بنسټ دی او وي به . باید وپوهیږو چې د پښتنو په سیموکې مکتبونه د یو هدف په خاطر سوزول کیږي . اقتصاد ، امنیت ، او په سیاسي لحاظ قوي حکومت په تعلیم انحصار لري . زمونږ ګاونډیان اوس په منظمه توګه زمونږ د هیواد په داخلي چارو کې مداخله کوي. او ددې غټه وجه داده چې مونږ د تعلیم د نه شتون ښکار یو . حکومت او مخالفین باید د ښوونې مراکزو ته د بې طرفه ځایونو په صفت اوګوري. کلونه اخلي چې یو نفر تعلیم یافته کړو خو په څو دقیقو کې کولی شو د مینځه یې یوسو . د مسلمان په صفت تعلیم باید زمونږ اولیت اوسي. کله چې یورپ د تورتم د دور نه تیریده نو مسلمانان وو چې اول روغتون ، د عالي تحصیلاتو ادارې یې جوړې کړې او د ریا ضي او ساینس کې یې پرمختګونه اوکړل. اروپایانو به دا افتخار ګڼلو چې د منځنې ختیځ کې په یو درسګاه کې شاګرد اوسي. د مسلمانانو په توګه مونږ باید دا دعا ووایو چې ربِّ زدني علماً ( ای ربه زما په علم کې اضافه اوکړې ) سوره طه (۲۰:۱۱۴)

# Afghan Millat Condemns Rocket Attacks into Kunar and Nooristan from Across the Border

Rocket attacks into Kunar and Nooristan Provinces from across the Durand line have been continuing for the last several months now. These attacks have caused several casualties and injuries besides loss of property to the local residents in border areas.
Afghan Millat Party led by Eng. Ajmal Shams condemns these attacks and calls upon the concerned authorities of the Government of Pakistan to immediately put an end to the shelling. The Government of Afghanistan and, in particular, President Karzai has so far, instead of being driven by emotions, has demonstrated immense patience and political wisdom by repeatedly calling upon Pakistani Authorities to stop these attacks on our innocent civilians.
Both the Government and People of Afghanistan look forward to having friendly relations with its neighboring Pakistan and it is of utmost importance that the two countries jointly fight terrorism with the spirit of mutual trust and collaboration. If the rockets attacks on Afghan soil are being launched to target Pakistani Taliban who might be supposedly hiding within the border areas of Kunar and Nooristan, it is advisable to control their movement across the border through joint efforts with Afghan National security forces and effective intelligence sharing rather than indiscriminately firing rockets into Afghan villages.
It is noteworthy that President Karzai while addressing a press conference categorically mentioned that the Afghan Government is seeking a peaceful solution to the problem through dialogue instead of resorting to similar acts of firing rockets across the border that might result into casualties of innocent civilians across the Durand Line, which is the least desirable option on the part of the Afghan Government. Based on the principles of good neighborly relations and international norms of protecting the lives of civilians, the Afghan Millat Party is demanding an immediate end of these attacks.


## د افغان ملت ملي جریده

د تاسیس نیټه: ۱۳۴۵المریز کال
د ګوند موسس: دیپلوم انجینیر غلام محمد فرهاد
د ګوند رییس: دیپلوم انجینیر اجمل شمس
عمومي منشي: وصلي خان ملاخیل
د امتیاز خاوند: د افغان ملت ملي مترقي ګوند
چلوونکی: فرهنګي کمیټه
د ټیلیفون شمیره: ۰۷۹۵۹۵۹۴۹۳
د پوستې ادرس: پست بکس ۵۵۹۵ کابل افغانستان

**Afghanistan Social Democratic Party**
Founded: 1966 by Eng. Ghulam Mohammad Farhad
President: Eng. Ajmal Shams
Postal address: PO Box 5595, Kabul, Afghanistan
Tel: +93 (0) 795-959-493
E-mail: afghanmillat@afghanmillat.org
Website: www.afghanmillat.org